حفیظ الله خالد ۲۰۱۰ / ۱۰/ ۳۰

چارواکي او د وطن لوړې ګټې

سږ کال د مې د میاشتې په دیرشمه د جرمنی جمهور رئیس ښاغلی" هورست کوهلر"افغانستان ته د یوسفر نه د راستنیدو څو ورځې وروسته د هغه هیواد د جمهوری ریاست له څوکۍ نه د استعفی په کولو سره دی ته حاضر نشو چی خپلی دندی ته د هغه هیواد د ولس مشر په توګه دوام ورکړی، د ښاغلی" کوهلر" د استعفی وجه دا وو چی هغه د مې په ۲۲ نیټه د جرمنی یوی رادیویی ستیشن سره د خپلو خبرو په یوی برخی کی ویلی وو چی « المانی سر تیری د هغه هیواد د اقتصادي ګټو پخاطر په افغانستان کی میشته دي » . د جمهور رئیس دی خبری د هغه هیواد په ځینو رسنیو کی له نیوکو سره مخامخ شوهمدا نیوکی په پایله کی د دی لامل شو چی دجرمني ولس مشر دهغه هیواد د جمهور ی ریاست له مقام نه استعفی ورکړي .

ښاغلي کوهلر دخپل استعفی پاڼي په یوی برخی کی داسی ولیکل : (د خواشینۍ ځای دی چی زما خبری په رسنیو کی ناسم تعبیر شوئ ، .. زه اوس نشم کولی د دی ټولو نیوکو او د خلکو دباور د له لاسه ورکولو با وجود خپلی دندئ کی پاتی شم.) د جرمنی لمړي وزیرئ میرمن انګیلا میرکیل د ولس مشر د استعفی په اړه داسی وویل : (ما په تیلفون کی ډیر زیار وویست چی ښاغلی هورست له خپلی پریکړي واړوم مګر بریالئ نشوم .. موږ ډیر ښه کاری اړیکی لرلي، زه اوس د هغه پریکړی ته درناوي کوم ..)

واضح خبره ده چي د جرمنی جمهور رئیس ښاغلی" هورست کوهلر" کولای شوای په مطبوعاتو کی نیوکو ته کومه پاملرنه ونکړي ، دجرمنی د هیڅ کوم لوی سیاسي ګوند مشر دښاغلی هورست د استعفیغوښتنه نوه کړي ، د هغه هیواد صدراعظمي میرمن انګیلا میرکیل خو حتی په خپل دندی کی د هغه د پاتی کیدو هڅه هم وکړه ، مګر د دی ټولو سره سره ښاغلی هورست د یو زمه وار ولس مشر پحیث د خپلو خبرو مسئولیت په غاړه واخست او دی ته حاضر نشو چي نور خپلي دندی ته د هغه هیواد د جمهور رئیس پحیث دوام ورکړي ځکه هغه ته د جمهوری ریاست د څوکۍ نه د خپل هیواد ګټی زیات ارزښت درلود هغه ځان سره دی پایلی ته رسیدلی وو چی د دی نیوکو په شتون سره د هغه پاتی کیدل د جمهوری ریاست په لوړ مقام کی نور د هغه هیواد او خلکو په ګټه نده هغه پس له دی نیوکو د خلکو باور چی د جمهوري ریاست د مقام د دندو د پرمخ بیولو لپاره لازم شرط ده له ځانه سره نلري ، پدی ترتیب هغه د خپل هیواد لوړی ګټئ د شخصي او ذاتی مفاداتو په پرتله غوره وګڼل او پخپله له خپلی دندی نه استعفی ورکړ سره له دی چی ښاغلی هورست کومه لویه ګناه نوه کړي هغه یوازی دومره ویلي وو چی د جرمني عسکر د اقتصادي دلایلو پخاطر افغانستان ته تلي ، دا خبره کومه غټه تیروتنه هم نه ده مګر هغه د خپل همدی کوچني تیروتنئ مسئولیت د یو ریشتینئ مشر پحیث پغاړه واخست او د چوکئ پخاطر یی خپل ځان ته برائت ورنکړ .

په کال ۱۹۷۴ کی د امریکی جمهور رئیس ریچارد نکسن د واټرګیټ د پیښی له امله دی ته حاضر شو چي د واټرګیټ د پیښي زمه واري په خپله غاړه واخلی او له خپلي څوکي نه استعفی ورکړي ، د وآټرګیټ په پیښي کی د جمهور رئیس نکسن جمهوري غوښتونکو څلور تنو پلویانو د دموکرات د ګوند په انتخاباتی مرکز کی د آواز د ثبتولو کوچنی دستګاه نښلولي وو تر څو د دموکراتانو خبری اتري ثبت او پدی توګه په راتلونکي ولس مشری ټاکنو کي جمهور رئیس نکسن ته د دوهم ځل لپاره د بري لاره اواره شي مګر دا پیښه وروسته په ډاګه شوه او د نکسن د استعفی لامل وګرزید،خپله نکسن هغه وخت د خپلی استعفی په اړه داسي وویل:
« ما هیله درلود چي خپله دنده تر آخره سر ته ورسوم، زما د کورنۍ غړي ا و دوستان له مانه غواړي چی خپلو دندو ته دوام ورکړم مګر زما په نظر د ولس ګټی باید د شخصي ګټو نه مخکي وي ، زه پس له هغوخبراوترو چی د کانګرس د غړو او نورو مشرانو سره می درلودی دی پایلي ته ورسیدم چی د « واټرګیټ » د پیښي نه وروسته زه د کانګرس او د خلکو هغه ملاتړ له ځانه سره نلرم کومه چي ماته د ولس دګټو د ساتني پخاطر د خپلی دندی د ښه اجرا لپاره لازمه ده . .. امریکا یو ټول وخته جمهور رئیس او کانګرس ته په داسی شرایطو کی چی په دننه او بهر کی له ډیرو ستونزو سره مخامخ دی اړتیا لري ...»

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

او پدی توګه جمهور رئیس نکسن د « واټرګیټ » د پیښی د مسئولیت په منلو سره له جمهوری ریاست له څوکی نه لاس واخست او په عوض کی د هغه مرستیال نوي جمهور رئیس جرالد فورد د ښښنی د یو فرمان په صادرولو سره هغه د ټولو جرایمو د مجازاتو نه معاف کړ.
په رسنیو کی ډیر داسي خبرونه خپریږي چی پکي د یو هیواد لوړ پوړي چارواکي په خپلو اړوندو چارو کی د نه بریالیتوب او یا د کومي ناوړي پیښي له امله د اخلاقي زمه واري پخاطر ځان ګرم بولي او له خپلي دندي نه لاس په سر شي ځکه د یو هیواد مشر یوازی هغه وخت کولی شي خپلي ملی دندی په بریالیتوب سره سرته ورسوي چی د خپل هیواد اوخلکو له لوړ باور او اعتماد نه برخورداره وي ، د یو هیواد ولس مشر هماغسی چی د هغه د نوم نه ښکاري د خپل ولس او هیواد ممثل او د لوړو ګټو ساتندوی دی ، په هغو هیوادو کی چی ولس مشر د خلکو لخوا انتخابیږي د ولس د مشر ټول کړه و ړه د هغه هیواد د خلکو او رسنیو لخوا له نیږدی څارل کیږي په ځینو مواردو کی خو حتی د یو هیواد د مشرشخصي اړیکی هم د رسنیو او عامه افکارو نه پټ نه پاتي کیږي چی ښه بیلګه یی د امریکی د پخواني جمهور رئیس بیل کلنتون او د هغه د سکرتری تر منځ ناوړه اړیکی وئ چی نیږدی وو دهغه د استعفی لامل وګرزي خو بیل کلنتون ځکه په خپلی دندی پاتي شو چی د امریکی کانګرس کی د تحقیق هیات دی څو میاشتو پلټنو نه وروسته دی پایلي ته ورسیده چی پیښه د امریکی د ولس لوړو ګټو ته زیان ندی رسولی، بیل کلنتون د خپل غیر اخلاقي اړیکو پخاطر د امریکی له ولس څخه ښښنه وغوښته .

په یو هیواد کی د شخصي ګټو په ځای د ولس لوړو ګټو او مفاداتو ته ترجیح ورکول او په خپلو تیروتنو باندی صادقانه اعتراف د هغه هیواد د سیاسی مشرتابه د تدبیر، پوهی او شجاعت نښه ده برعکس سرتمبګي، د چوکئ ساتل او عامه افکار او رسنیو ته چی په هری ټولني کی د چارواکو د کړووړو هنداره بلل کیږي ، نه پاملرنه د یو هیواد په چارواکو کی د فساد، او اخلاقي انحطاط ښکارندوی دی چی دا منفی پدیدئ د هر ی ټولنی لپاره د تباهی او بدمرغئ عامل کیدای شي، لوی خدای دی زموږ چارواکو ته دا شهامت ورپه برخه کړي چی په خپل کړووړو کی د شخصي ګټو پر ځای د وطن او ولس لوړي ګټي په نظر کی ونیسي .
والسلام

پای

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ